WWW.CSRSKABUL.COM

## مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

## د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

شماره: ۷۳ (از ۱۰ الی ۱۷ جوزا ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

### په دې ګڼه کې لاندې مطلبونه لولئ:

## د اوباما د باندنيو چارو نوې نړيواله تګلاره


- مقدمه ........................................................................................ ۳
- د اوباما باندنۍ چارې........................................................................ ۳
- د اوباما د باندنيو چارو نوې نړيواله تګلاره ........................................................ ۴





## پایان مسؤولانۀ یک جنگ نامسؤولانه

روند مذاکرات مستقیم میان طالبان و امریکا ........................................................... ۸

برنامۀ امریکا برای پایان دادن جنگ افغانستان.............................................................. ۹





# د اوباما د باندنیو چارو نوې نړیواله تګلاره




**مقدمه**

د امریکا ولسمشر بارک اوباما په واشنګټن کې د افغانستان سفارت او افغان جګړې‌ړو چارواکو ته له خبر ورکولو پرته بګرام ته راغی او له خپلو پوځیانو سره یې وکتل. دغه نابللي مېلمه په دغه سفر کې د افغانستان په اړه خپله نوې تګلاره اعلان کړه او خپل کورنه سیال حامد کرزی یې بګرام ته د ملاقات لپاره ورو‌غوښت. خو له دغه هرڅه یوازې یوه ورځ وروسته بارک اوباما خپله نوې نړیواله تګلاره اعلان کړه.

بارک اوباما د نړۍ په هکله او په نړۍ کې د امریکا د نوي رول په اړه، خپله او د امریکا نوې تګلاره په نیویارک کې د امریکا د متحده ایالاتو په نظامي پوهنتون وېسټ پوینټ (West Point) کې داسې مهال اعلان کړه، چې نه یوازې د امریکا د حربي پوهنتون د نظامي محصلینو د فراغت ورځ وه -چې د امریکا د ځواک نښه بلل کېږي- بلکې اوباما پکې د کانزرویټانو او نورو امریکایي چارپوهانو له خوا تر نیوکو لاندې هم دی، چې ګویا یو انزوایي سیاست مخته وړي. د دغې نوې تګلارې موخه دا وه، چې په بدلېدونکې سیاسي نړۍ کې د امریکا لپاره راتلونکی رول وضع کړای شي.

په ټولیز ډول د بارک اوباما باندنۍ چارې، د افغانستان په اړه د ده تګلاره او په ټوله کې د اوباما د باندنیو چارو نوې نړیواله تګلاره، د احمد بلال خلیل په تحلیل کې څېړل شوي دي:

## د اوباما باندنۍ چارې

بارک اوباما چې کله د جورج ډبلیو بوش د واکمنۍ پر مهال د امریکا د مشرانو جرګې غړی و، نو د عراق او افغانستان پر جګړې به یې تل نیوکې کولې. وروسته چې دی ولسمشریزو ټاکنو ته ودرېد؛ نو د خپلو انتخاباتي

کمپاینونو په لومړي سر کې یې، چې جان مکېن یې پکې سیال و، په نړیوالو چارو کې د شیکاګو شورا[1] کې د خپلې باندنی تګلارې موخې وټاکلې، چې د عراق د جګړې پای ته رسول د هغه نوملړ په سر کې شامل وو.

کله چې د ۲۰۰۸ میلادي کال په ولسمشریزو ټاکنو کې بارک اوباما بریالی شو او په ۲۰۰۹ کال کې یې لوړه وکړه؛ نو د نړی په جیو-پولیټیکي چاپېریال کې خورا ډېر بدلونونه ترسترګو شول. لکه د ۲۰۰۸ کال نړیوال اقتصادي بحران، د یورو بحران، په جورجیا کې د روسانو او پوتین نېغه لاسوهنه، له ایران سره د پېنځه+یو هېوادونو خبرې اترې، د ډرون الوتکو بریدونه، د ویکي لېکس غوغا، په منځني ختیځ کې د عربو پسرلی (ربیع العربي)، په لیبیا او سوریه کې کورنی جګړې، د امریکایي استخباراتو په اړه د سنوډن افشا شوي رازونه، له عراق څخه د امریکایي پوځیانو وتل، په شمالي افریقا کې د القاعدې شبکې نښې راښکاره کېدل، له افغانستان سره د ستراتېژیک تړون د لاسلیک معما او داسې نور.

اوباما د ۲۰۰۸ کال ولسمشریزې ټاکنې د بدلون راوستلو او له عراق څخه د پوځیانو د ایستلو تر شعار لاندې وګټلې او د ۲۰۱۲ کال ټاکنې یې له افغانستانه د امریکایي پوځیانو د ایستلو له ژمنو سره وګټلې. د اوباما افغان تګلاره (۲۰۰۸-۲۰۱۴)تر ډېره بریده د تذبذب ښکار وه، په ۲۰۰۹ کال کې یې په افغانستان کې د مېشتو پوځیانو پر شمېره ۳۰ زره نور سرتېري هم ورزیات کړل، په ۲۰۱۲ کال کې یې د پوځیانو د ایستلو پرېکړه وکړه، په ۲۰۱۳ کال کې یې د دواړو هېوادونو تر منځ د ستراتېژیک تړون د لاسلیك تکل وکړ او اوس په ۲۰۱۴ کال کې یې په باګرام کې اعلان وکړ، چې د ۲۰۱۴ کال په پای کې به په افغانستان کې ۹۸۰۰ سرتېري پاتې شي او دا به هم په ۲۰۱٦ کال کې له افغانستانه وباسي.

## د اوباما د باندنیو چارو نوې نړیواله تګلاره

اوباما په دې پوه شوی، چې د افغانستان د جګړې پیل آسانه خو پای ته رسول یې ګران کار دی. اوباما د افغانستان په هغه سیمه (باګرام) کې چې د تمدنونو او نظامي اډو یو تاریخي تسلسل لري، اعلان وکړ، چې په افغانستان کې به د ۲۰۱۴ کال تر پایه ۹۸۰۰ سرتېري مېشت وي، چې د پاتې کېدو موده به یې تر ۲۰۱٦ کال پورې وي او له ۲۰۱٦ کال وروسته به بیا ټول امریکایي سرتېري داسې مهال خپل هېواد ته ستانه شي، چې د اوباما د ولسمشری وروستی کال به وي.

[1] Chicago Council on Global Affairs

وروسته اوباما د نیویارك په وېسټ پوینټ کې د امریکا د راتلونکي رول په اړه خپله پالیسي اعلان کړه، چې د ډېرى امریکایانو له خوا پر دغې پالیسۍ د امریکا د نظامي او نړیوال رول په هکله نیوکې وشوې.

د اوباما وینا له دې خبرې پیل کېږي: «پرېږدئ چې خپل وخت د راتلونکو کلونو لپاره د امریکا او د نظامیانو د رول په جوړلو کې تېر کړم.»

اوباما وړاندې وویل، چې په تېرو وختونو کې به موږ هغه مهال نظامي تعرض کاوه، چې د امریکا او د متحدینو ګټې به تر پښنو لاندې شوې؛ خو په اوسنۍ نړۍ کې باید موږ په تنقیدي توګه وپوښتو، چې آیا زموږ عمل تناسب، باغیزه او انصاف لرونکی دی او کنه؟ ځکه نړیوال لید ډېر مهم دی.

نوموړی که له یوې خوا د تعرضي نظامي عملیاتو تمویل غواړي؛ خو ترڅنګ یې بیا زیاتوي، چې هر کله د دوی خلك، هېواد او د ژوند تګلاره تر خطر لاندې راشي، نو بیا هېڅ اجازو ته اړتیا نشته.

د افغانستان په اړه وایي، هلته مو د القاعدې ملا ورماته کړه او هغه شورشونه مو لرې کړل، چې په هغه هېواد کې روان وو. اوس د دغې چارې قابو کول د افغانانو په وړتیا پورې منحصر دي. د همدې لپاره مو سلګونه زره افغان ځواکونه وروزل. د بهار له پیل کېدو سره افغانانو رایه وکاروله او په دېموکراتیکه توګه یې د واك تاریخي لېږد ته لاره پرانیسته. د دغه کال په پای کې به نوی رئیس جمهور راشي او د امریکا نظامي مېشن به پای ته ورسېږي.

له افغانستانه د وتلو او د لرو پوځیانو له ساتلو او اډو څخه یې موخه دا ده، چې خپله پاملرنه منځني ختیځ او د افریقا شمالي برخو ته وروګرځوي، ځکه هلته یې د نایجریا "بوکو حرام" د سومالیې "قزاقان" او اسلامي ډلې، او د القاعدې بیا راپورته کېدنه انتظار باسي او دی هم، دغه هر څه د امریکا د امنیت لپاره خطر ګڼي.

که څه هم اوباما په خپله وینا کې وویل، چې که چېرې د امریکا هېواد، خلك او د ژوند تګلاره له خطر سره مخ وي، نو دوی به له نظامي/تعرضي سیاست خپلولو څخه ډډه ونه کړي؛ خو ترڅنګ یې دی زیاتوي، چې دا نظامي/تعرضي سیاست باید داسې وي، چې امریکا ته نوي دښمنان ونه زیږوي!

په بنسټیزه او کُلي توګه که څوك د اوباما وینا واوري او یا یې په لیکنیزه بڼه ولولي نو جوته به شي، چې له یوې خوا دی دا غواړي، چې د امریکا د ګټو په خاطر له عملیاتو څخه ډډه ونه کړي؛ خو ترڅنګ یې باید د هېوادوالو تلفات او له اوږدو جګړو څخه ژغورنه هم په پام کې ونیول شي. او په بل اړخ کې یې غواړي، چې د نړۍ په هره پېښه کې هم ځان او امریکا ښکېل نه کړي؛ ځکه خو یې په وینا کې د ډېرو هېوادونو په اړه څه نه دي ویل شوي، چې باید یو څه پکې ویل شوي وی.

د امریکا د بانفوذه تحقیقاتي انستیتوت (کونسل آن فارن ریلیشن[2]) یا د بهرنیو اړیکو د شورا) مشر ریچارد هاس په اند، د می د ۲۸مې په وینا کې اوباما هغه څه ته ډېره پاملرنه وکړه، کوم څه یې نه خوښول او لږ یې پر هغه څه فوکس وکړ، چې خوښېدل یې.

په ټولیزه توګه دا نوې تګلاره د امریکا باندنیو چارو ته یو نوی لید ورکوي او دا له غیرضروري نظامي عملیاتو/تېریو او له انزوایي سیاست څخه ژغوړل دي.

ډېری شنونکي د اوباما دغې نوې تګلارې ته د نکسن-کیسنجر د تګلارې په توګه ګوري، هغه چې نکسن د هوښیار کیسنجر د ډیپلوماسۍ پر مټ او د نورو هېوادونو په مرسته خپل دښمنان پرځول غوښتل؛ په ایران کې یې شاه ته یو نوی رول ورکړ او ده بیا په سیمه کې، په تېره بیا د ذولفقار علي بوټو په پاکستان او د سردار داؤد خان په افغانستان کې خپل ورکړل شوی پلان تعقیب کړ؛ خو پایلې یې بیا هله ډېرې ترخې راووتلې، چې په ایران کې شاه بې تاجه شو، بوټو اعدام خانې ته راوستل شو او سردار داؤد خان له خپلې ټولې کورنۍ سره د مرګ کومې ته ولاړ.

اوباما هم اوس غواړي، چې په سومالیه او مالي کې د فرانسویانو په مرسته عملیات ترسره کړي او په شمالي افریقا کې د القاعدې پرخلاف ۵ ملیارده ډالر وضع کړي. د نړیوالو ځواکونو په مرسته غواړي چې په لیبیا کې حالات راقابو کړي، په سوریه کې د سوریې له ګاونډیانو (ترکیه، عراق) سره اړیکې ښې کول غواړي؛ څکه همدوی دي، چې د سوریې ګډوالو ته یې پناه ورکړې ده او د تروریزم د څپو پر ساحل واقع دي.

[2] Council on Foreign Relations

## پایان مسؤولانۀ یک جنگ نامسؤولانه



اتفاقات اخیر، چون تبادلۀ زندانیان طالبان با یک سرباز امریکایی، برنامۀ امریکا برای پایان دادن جنگ افغانستان و موضوعات دیگر را، وحید مژده کارشناس مسائل سیاسی تحلیل کرده است:

این مسئله را باربار شنیده ایم که در سیاست دوستی دایمی و دشمنی دایمی وجود ندارد بلکه آنچه که وجود دارد، منافع دایمی است. منافع دراز مدت امریکا در افغانستان الزاما به معنی حضور طویل المدت نظامی نیست و اگر چنین هدف بدون جنگ وحضور نظامی برآورده شود، بهتر خواهد بود. تحولات اخیر این مسایل را تا حدی روشن می‌سازد.

چند ماه قبل حامدکرزی تحت فشارهای شدید از جانب امریکا و گروه‌ها ورسانه‌های طرفدار امریکا در داخل قرار داشت تا هرچه زودتر قرارداد امنیتی با امریکا را امضا نماید و اگر این کار عملی نشود، امریکا مجبور خواهد شد تا تمام نیروهایش را در پایان سال ۲۰۱۴ از افغانستان خارج کند. با وجود تنش در روابط میان کرزی و قصر سفید، بعضی‌ها به این باور بودند که این کشمکش یا بعبارۀ عامیانه «جنگ زرگری» بخشی از برنامه‌های خود امریکا، برای خروج از بن‌بست افغانستان است.

از مدتها قبل گفته می‌شد که در میان گزینه‌هایی که امریکا در مورد آیندۀ افغانستان دارد، گزینۀ صفر هم مطرح است و آن اینکه ممکن است امریکا اصلا نیرویی در افغانستان باقی نگذارد؛ اما هواداران امریکا در افغانستان، همیشه این گزینه را ناممکن می‌دانستند و آنرا وسیلۀ فشاری تلقی می‌کردند که امریکا بر حامدکرزی وارد می‌آورد. این فشارها موجب شد تا هرچه فحش و دشنام بود از جانب هواداران امریکا بخصوص رسانه‌های وابسته به آن کشور، نثار حامدکرزی و کسانی گردد که مخالف امضای قرارداد امنیتی با امریکا بودند.

اما اکنون به تدریج مشخص می‌شود که برنامۀ امریکا برای افغانستان، حضور طویل المدت نظامی در این کشور محاط به خشکه نبود. اوباما بارها گفته بود که جنگ افغانستان را مسولانه به پایان خواهد رسانید. ابهام در تعبیر«پایان مسولانۀ جنگ» موجب شد تا هرکسی از آن برداشت خاص خود را داشته باشد.

مشخص بود که برنامهٔ امریکا برای افغانستان به خواست حامدکرزی رابطه‌ای ندارد. امریکا که برای اجرای عملیات نظامی هرگز حامدکرزی و حکومت افغانستان را جدی نگرفته بود، برای ماندن نظامی نیز نیازی به اجازه از کرزی نداشت. با اعلام جدید اوباما برای خروج کامل از افغانستان در پایان سال ۲۰۱۶، مشخص شد که امریکا طرحی برای پایان این جنگ با مخالفین دارد.

## روند مذاکرات مستقیم میان طالبان و امریکا

از جانب دیگر طالبان بعنوان یگانه نیروی مخالف نظامی که در طول دوازده سال، حضور امریکا در افغانستان را به چالش کشیدند، یگانه شرط پیوستن به پروسهٔ صلح را خروج کامل نیروهای خارجی از افغانستان اعلام نمودند. از سال ۲۰۱۰ که نخستین تماس‌های مستقیم میان طالبان و امریکا آغاز شد و با وساطت دولت آلمان در این کشور نخستین نشست میان نماینده‌گان دوطرف صورت گرفت، طالبان حضور نیروهای خارجی را بعنوان عامل اصلی دوام جنگ خواندند و از امریکا خواستند تا تاریخ خروج نیروهای خود از افغانستان را اعلام نماید.

اگر امریکا به این خواست طالبان بی توجه می‌بود و قصد خروج کامل از افغانستان را نمی‌داشت، نیازی به توافق با طالبان بر سر ایجاد دفتری در قطر احساس نمی‌کرد؛ زیرا بدون تحقق خواست اول طالبان، مذاکرات بی‌نتیجه بود.

هرچند طالبان در اعلامیه‌های رسمی خود، بر خروج عاجل وبدون قید وشرط نیروهای خارجی تاکید داشتند؛ اما در مذاکرات مستقیم و رویاروی، این‌همه سخت‌گیر نبودند. آن‌ها به امریکایی‌ها گفتند که افغانستان نیازمند کمک‌های خارجی است و امریکا باید بعد از خروج نیروهایش از افغانستان، نیز به کمک به افغانستان متعهد باقی بماند. آن‌ها به امریکا اطمینان دادند که در صورت خروج کامل نیروهای خارجی از افغانستان، طالبان مانع حضور مخالفین مسلح امریکا در افغانستان خواهند شد و اجازه نخواهند داد تا خاک افغانستان علیه کشور دیگر، مورد استفاده قرار گیرد.

در این رابطه باید میان دوطرف فضای اعتماد ایجاد می‌شد تا مذاکرات ادامه می‌یافت. طالبان ایجاد چنین فضایی را مربوط به آزادی پنج تن از یاران شان، از زندان گوانتانامو ساختند. امریکایی‌ها نمی‌خواستند بسرعت گام بردارند و در صدد ذهنیت سازی بودند تا هم در افغانستان و هم در خارج، ذهنیت‌ها برای تغییر آماده گردد. به همین دلیل دست به صحنه‌سازی هایی هم زدند تا مذاکرات به تعویق افتد، اما مسؤول آن دولت افغانستان و طالبان شناخته شوند. در شرایطی که امریکا با دولت افغانستان توافق کتبی داشت که دفتر طالبان در قطر عنوان امارت اسلامی را نخواهد داشت، باز شدن دفتر طالبان در قطر، تحت نام امارت اسلامی افغانستان با امریکا صورت گرفت؛ زیرا امریکایی‌ها هیچ قیدوشرطی را برای طالبان در مورد بازشدن دفتر در دوحه مشخص نکرده بودند و به همین دلیل هم بعد از باز شدن دفتر، دولت قطر هم دچار مشکل شد.

## برنامهٔ امریکا برای پایان دادن جنگ افغانستان

کشمکش میان حامدکرزی و امریکا بر سر امضای قرارداد امنیتی ماه‌ها ادامه یافت که رسانه‌ها در امریکا فراوان به آن می‌پرداختند و حتی از خروج کامل از افغانستان سخن می‌گفتند و در عین حال، نظر پرسی‌های سالانه در امریکا نشان داد که مردم امریکا هرسال در مقایسه با سال قبل، کمتر از جنگ افغانستان حمایت می‌کنند.

سال ۲۰۱۴ سال تغییر در افغانستان خوانده شد و در این سال، مسؤولیت امنیتی تمام افغانستان به نیروهای افغان سپرده شد. نیروهای افغان علی الرغم نداشتن تجهیزات کافی و آموزش‌های لازم «که به دلیل حملات سبز بر آبی از رمق افتاده بود» توانستند این مسؤولیت را بعهده بگیرند. حالا زمان آن فرا رسیده بود تا کفایت این نیروها در عمل به اثبات برسد که میدان عملی این آزمایش انتخابات بود.

هرچند طالبان در جریان انتخابات دست به حملات زیادی در سراسر افغانستان زدند، اما به دلیل حمله‌ای که قبل از انتخابات به هوتل کابل سرینا صورت گرفت و یک خبرنگار افغان با خانواده‌اش کشته شدند، خبرنگاران در افغانستان نشر اخبار طالبان را تحریم نمودند و به این ترتیب طالبان بعنوان گروهی که ضعیف شده و حتی در حال از میان رفتن اند و توان رویارویی با نیروهای افغان را ندارند، معرفی شدند. رسانه‌های افغانستان در این رابطه به چنان تبلیغات وسیع دست زدند که سروصدای بیش از یک هزار حملهٔ طالبان در روز انتخابات خاموش شد.

جالب اینجاست که کسانی که خواهان حضور طویل المدت نیروهای خارجی و دادن پایگاه‌ها به آنان بودند، کسانی که به این باور بودند که اگر نیروهای امریکایی از افغانستان خارج شوند، افغانستان به جنگ داخلی برخواهد گشت، کسانی که کرزی را بخاطر عدم امضای قرارداد امنیتی مورد نکوهش قرار می‌دادند، در این جریان بصورت ناخودآگاه در ایجاد جو وفضا برای اعلام خروج کامل نیروهای امریکایی از افغانستان توسط اوباما، نقش بازی کردند!

حالا زمینه برای اعلام خروج کامل نیروها از افغانستان مساعد بود و اوباما در سفر به میدان هوایی بگرام از کرزی دعوت به ملاقات نمود که از طرف رئیس جمهور کرزی رد شد. امریکایی‌ها از قبل گفته بودند که دیگر نیازی به امضای این قرارداد با کرزی نیست و این قرارداد را، با رئیس جمهور جدید به امضا خواهند رسانید.

اکنون که اوباما می‌گوید بعد از سال ۲۰۱۶ هیچ سرباز جنگی امریکایی در افغانستان باقی نخواهد ماند، سرنوشت قرارداد امنیتی که قرار بود به امضا برسد، مواجه به ابهام است. در این قرارداد به حضور نیروهای امریکایی، تا سال ۲۰۲۴ اشاره شده بود که باید در ۹ پایگاه در مناطق مختلف افغانستان، مستقر باقی بمانند. اما اکنون اعلام شده که ۹۸۰۰ سرباز، تا پایان سال ۲۰۱۶ در پایگاه بگرام باقی می‌مانند و ادارهٔ سایر پایگاه‌ها به نیروهای افغان سپرده خواهد شد.

شرایط دنیای ما در حال تغییر است و امریکا با چالش‌های جدیدی از شرق میانه گرفته تا شرق دور و از شرق اروپا گرفته تا افریقا مواجه است. اوباما می‌گوید که هر چالشی را نمی‌توان با نیروی نظامی از میان برداشت.

اکنون برما افغان‌هاست تا شناخت دقیق‌تر از شرایط جهان معاصر، در جهت تامین صلح و تفاهم میان خود، گام برداریم و ما هم به همان باور برسیم که اوباما رسیده است؛ برای مقابله با هر تهدید نباید فقط به گزینه جنگ و درگیری نظامی اندیشید.
پایان